# د ډاکټر نجیب الله شهید دیارلسم تلین

رپورټ: ډاکټر محمد زبیر حسرت

د عوامي نېشنل پارټۍ پښتونخوا له خوا د افغانستان د پخواني جمهور رئیس صدر محترم ډاکټر نجیب الله شهید د دیارلسم تلین دستوره په ۲۷ ستمبر ۲۰۰۹ء د باچا خان مرکز په هال کښې د سېنېټر محترم افراسیاب خټک د صدارت د لاندې ونمانځلې شوه. د نظامت فرائض تاج الدین خان ترسره کړل. په دې موقع له هر څۀ اول د شهید ډاکټر نجیب الله روح ته د ایصال ثواب په غرض د قرآن پاک ختم او اجتماعي دعا وشوه. د محترم نصرالله خان کمانډر د تلاوت کلام پاک نه د دستوري ابتداء وشوه. ورومبے ښاغلي امجد شهزاد خپل نظم واورولو، وروپسې ښاغلي ځلان مومند له د ډاکټر نجیب په ژوند او شخصیت د مقالې اورولو بلنه ورکړې شوه. د دوي د مقالې عنوان وُ "د دستار سړے" ښاغلي ځلان مومند د ډاکټر په ژوند، شخصیت او مبارزه رڼا واچوله او دوي ته ئې د خوشحال بابا په دې شعر پېرزوئني وړاندې کړې چې:

چې دستار تړي هزار دي
د دستار سړي په شمار دي

د هغوي نه پس د ملګري ډاکټرانو صدر ښاغلي ډاکټر میا افتخار حسین خپله وینا کښې د ډاکټر نجیب الله سره د خپلې مینې او عقیدت اظهار وکړو او د هغوي د فکر و عمل د مخ په وړاندې بوتللو بلنه ئې ورکړه. اېم این اې محترمه جمیله ګیلاني ووې چې ډاکټر صاحب چې ځان له کومه لاره خوښه کړې وه هغه د هغې د اهمیت نه هم خبرؤ او د هغې د قیمت نه هم خبرؤ. هغه خلق چې په صدو کښې یو پېدا کېږي، هغه پښتون منصور، چې مونږ ټول پښتانۀ ئې هسکه غړې کړو، سبا چې د پښتنو تاریخ لیکلے شي نو د ډاکټر نجیب ذکر به پکښې د یو داسې بریالي په توګه راځي چې د افغان دشمن قوتونو سره ئې مقابله کوله، هغه کسان دۀ ښۀ پېژندلي وو او هم دغه قوتونه وو چې هغه ئې د منځه وېستل غوښتل.




دوي پسې محترم هاشم بابر خپل دوه نظمونه "ښتینولي" او "راپېښه" ډاکټر نجیب شهید ته نذر کړل. دوي پسې ښاغلي بشیر پښتون یار خپل دوه نظمونه د پښتون او پښتونخوا په حواله واورول.

محترمې ظاهره خټک خپلو خبرو کښې ووې چې زۀ د ډاکټر نجیب د خور په حېث ستاسو مننه کوم چې دلته راغلئ او مونږ سره مو د هغوي په حق کښې د مغفرت په دعا ختم القرآن او دې دروند محفل کښې شرکت وکړو. دوي وړاندې ووې چې عبدالغفار خان بابا

چې د ولي خان سره کله افغانستان ته راغلے ؤ نو ډاکټر صاحب ئې د يو سټېټ د مشر په حېث استقبال کړے ؤ. هغوي دا ګڼل چې باچا خان د کلهمو پښتنو مشر او باچا دے او بيا هاغه وخت هم راغے چې ډاکټر صاحب د ډزو په شور د بمونو چاودنو او د ګوليو په باران کښې د باچا خان تدفين له جلال آباد ته راغلے ؤ، دا د هغوي خپل مشر سره رښتونې مينه وه او زۀ چې نن دلته راغلے يم نو د يو داسې عظيم شخصيت د ورځې نمانځلو په احترام کښې چې هغوي خپل ټول ژوند او صلاحيتونه د خپل قام او وطن د پاره وقف کړي وو.

ښاغلي شېر محمد خان ابېډوکېټ ووې چې ډاکټر نجيب شهيد چې د ټولې پښتونخوا د پاره کوم سوچ، فکر او عملي مبارزه کړې ده، د هغې مونږ تصور هم نۀ شو کولے، ځکه چې زمونږ ښځې عمل نشته او د ډاکټرصاحب په سوچ،وېنا او عمل کښې تضاد نۀ ؤ چې ځۀ ئې وئيل هغه ئې کول هم. هغه چې کله د اقوام متحده په دفتر کښې ؤ نو ټولو مشرانو ورته وئيلي وو چې تاسو به په يوه محفوظه لاره لاړ شئ خو هغوي وئيل چې سر ورکوم خو سنګر نۀ ورکوم. زما تجويز دے چې داسې يو تنظيم راجوړ کړے شي چې د ډاکټر نجيب په ژوند، شخصيت او عملي مبارزه تحقيق وکړي، کتابونه پرې وليکي نو دا به زمونږ د راتلونکيو نسلونو د پاره د خوشبختۍ خبره وي.

ښاغلي عبداللطيف اپريدي ووې چې ما ډاکټر صاحب ډېر ليدلے نۀ ؤ خو اوريدلے مې ډېر ؤ او دا نن چې زمونږ په خاوره کوم صورتحال دے نو دې له چې په زرګونو او لکونو کښې




ضرب ورکړې شي نو ډاکټر صاحب داسې حالاتو کښې د افغانستان واک ترلاسه کړے ؤ چې هره خوا بدامني او ډېر خراب حالات وو او ټولې دنيا په افغانستان کښې لاس وهنې کولې. مونږ چې د ډاکټر صاحب وخت او ژوند ته ګورو او بيا خپل وطن او ژوند ته ګورو نو موازنه ئې نۀ شي کېدے.

د هغوي نه پس ښاغلي رحمت شاه سائل خپل نظم واورولو. ورپسې ميا افتخار (د پښتونخوا د اطلاعاتو وزير) خپله پُرمغزه او جذباتي وېنا کښې ووې چې د لته مونږ ټول د ډاکټر صاحب د ژوند، فکر او عمل نه خبر يو خو خپل ځان پېژندل غواړي. ډاکټر صاحب محدود نۀ ؤ، د ټول انسانيت او ټولې نړۍ خبره ئې کوله. نن ټوله دنيا دوه برخې ده. دوستان او دښمنان مونږ له شناخت کول دي چې خپل دوست او دښمن وپېژنو. کۀ هاغه وخت مو هم ځان پېژندلے وے نو د ډاکټر صاحب غوندې هستي به رانه نۀ جدا کېده، په مونږ هم هاغه شان حالات دي او داسې مونږ سره هم کېدے شي ځۀ چې ډاکټر صاحب سره وشو. مونږ ډاکټر صاحب ته مخ تورن نۀ يو ځکه چې مونږ هم د هغۀ په لاره



روان یو. دوي د حکومت نه مطالبه وکړه چې په ټوله پښتونخوا کښې دې د ترهه ګرۍ مخ نیوے وشي ګني دا لمبې به ډېرې زر په ټول وطن کښې خورې شي چې هیڅ علاج به ئې نۀ وي.

ښاغلي سېنېټر افراسیاب خټک خپلو خبرو کښې د ډاکټر نجیب شهید په ذاتي ژوند، فکرو نظر او اوسنیو حالاتو رڼا واچوله. دوي ووې چې میر اکبر خېبر د ډاکټر نجیب استاد ؤ، سیاست ئې په پېښور کښې زده کړے ؤ او د باچا خان پېروکار ؤ، زما ورسره ورومبے ملاقات د ارباب سکندر خان خلیل شهید په بالاخانه کښې شوے، بیا چې زۀ کابل کښې وم نو کله کله به ملاقات کېدو. ډاکټر صاحب ډېر ځیرک او بهادر سړے ؤ، په حکمت به ئې خبرې کولې چې روغه جوړه پکار ده، دغه د روغې جوړې سیاست دۀ راوچت کړے ؤ او تر اخره پرې کلک ولاړ ؤ، خټک صاحب زیاته کړه چې هغه په بنیادي توګه یو قوم پرست افغان ؤ، د پلار ئې سردار داؤد خان سره ملګرتیا وه او داؤد خان زمونږ د خطې د سیاست نه ډاکټر نجیب خبر کړے ؤ.

ډاکټر صاحب ډېر په حکمت روسان د افغانستان نه ووېستل او پاکستان سره ئې ښۀ تعلق غوښتل. دوي وړاندې ووې چې ډاکټر نجیب الله افغانانو نۀ دے وژلے هغه د رنجیت سنګهـ زامنو وژلے دے، چې نن سبا ئې په پښتونخوا کښې د جنګ لمبو ته لمن وهلې ده. هغه په خپل وطن کښې په روسانو هم خوشحاله نۀ ؤ، هغۀ به



وئیل چې پوځي مداخلت ضروري نۀ دے، زۀ د قومي روغې جوړې سیاست کوم په افغانستان کښې ټولو مخالفو ګوندونو سره خبرو اترو ته تیار یم او هغۀ خبرې کړې هم وې، خپل صدارت ئې پرېښے ؤ او اولس ته ئې حکومت حواله کړے ؤ. کۀ د جنېوا معاهده کامیابه شوې وه نو به ډاکټر صاحب شهید کېدلو او نۀ به دا اوسني حالات وو چې وزیرستان ئې مرکز دے. اوس دا جنګ زمونږ په ټول وطن کښې خور کړے شوے دے. افغانستان کښې اوس هیڅ جنګ نشته هلته نورې ډېرې مسئلې شته خو د جنګ مسئله هواره ده، دا خو دلته یو مشیني ذهن د اټک نه پورې غاړه کار کوي او پښتانۀ ئې ورته ښکار کړي دي. ما د پاکستان حکومت ته په مرکز کښې هم دا خبره کړې ده چې د دهشت ګردۍ خلاف کوټلي قدمونه وچتول پکار دي او په پاکستان کښې د وزیرستان دا متوازي حکومت ختمول پکار دي او د فاټا مسئله زر تر زره هوارول ضروري دي او زۀ اوس هم د ډاکټر نجیب شهید د یادولو په دې اهمه ورځ دا مطالبه کوم چې د وزیرستان او فاټا مسئله دې زر تر زره هواره شي ګني د جنګ دا لمبې به په ټول وطن کښې خورې شي.

د ډاکټر نجیب شهید د یادولو په دې اهمه ورځ په بنو او پېښور کښې د بمونو د چاودونو غندنه هم وشوه او په دغه سانحو کښې د مرحومینو د پاره دعا هم وشوه او د پارټۍ د هغو ټولو پښتنو ورونو خوېندو د بخښانې دعا هم وشوه چې دې تېره میاشت کښې وفات شوي دي.

په دې دستوره کښې د عوامي نېشنل پارټۍ د مشرانو نه علاوه ډېرو کارکنانو هم په ګڼ شمېر کښې شرکت وکړو او داسې دا دستوره چې دولس بجې شروع شوې وه درې بجې ماسپښین ختمه شوه.